DECENT WORK
A better world starts here.

International Labour Organization

مطبوعاتی اعلامیه

**کابل – د 2012 کال د فبروري د میاشتي 7مه نیټه**

**دافغانستان دخښتو په بټیو کې محصورکارګرماشومان:**

**یوه نوې سروې د دغه ډول کار د له منځه وړلو پروړاندې پراته خنډونه په ګوته کوي.**

کابل(دکارنړیویوال سازمان خبر)- دکار دنړیوال سازمان پوسیله ترسره شوې وروستی سروې په ډاګه کوي چې دخښتو په بټیو کې نیمايي کاګران ماشومان دي اودخښتو دبټیو اکثریت کارکوونکي ماشومان له ۱۴ کالونو څخه ټیټ عمرلري.

(په خښتو کې محصور یا ښخ شوي) تر نامه لاندې سروې موخه دافغانستان دخښتو په بټیو کې دمحصوروکارګرانو شتون ته یوه لنډه کتنه ده په ځانګړې توګه د کابل ولایت په ده سبز ولسوالی او دد ننګرهار دسره رود په ولسوالیو کې دمحصورو ماشومو کارګرانو دشته والي او دهغه ماشومانو چې په خورابد حالت کې په بټیو کې د پوره وړیو په شکل کارکوي یوه ښکارنده حالت وړاندې کوي. دغه څیړنه دکار دنړیوال سازمان لخوا د سامول هال دمشاورتي مرکز پوسیله ترسره شوی دی.

دغه سروې په ښکاره په ډاګه کوي چې دافغنستان د خښتو په بټیو کې ٪۵۶ خښتي جوړوونکي هغه ماشومان دي چې عمرونه یې له ۱۸ کلونو څخه کم دی او لدې شمیرې څخه ٪۵۸ هلکان او ٪۴۲ یی جینکی جوړوي. دسروې له مخې په سلو کې ٪۳۳ هلکان او ٪۱۴ جینکي له ۱۴ کلونو څخه د کم عمر لرونکي دي. ډیري دغه ماشومان آن په ۷-۸ کلنی کې کارکولو پیل کوي او په سلو کې ۸۰ سلنه ماشومان په ۹ کلنی کې دغه کار ته مخه کوي. ددغه کارګرو ماشومانو له ډلې یوازې ٪۱۵ ښوونځي ته ځي او پاتې برخه یې کورنیو ته د ډوډی پیداکولو په موخه په بټیو کې کارکول دي او په پایله کې نه شي کولی نور مهارتونه زده کړي او په بټیو کې د میراثي پوره وړیو په توګه پاتي دخپلو پلرونو په قرضونو کې ډوب پاتي کیږي او پرته له کومي بلې لارې چارې دبټیو له خاوندانو سره د ګرو په شکل پاته کیږي.

دنور هیوادونو په پرتله په افغانستان کې دخښتو په بټیو کې وضعه بل ډول ده دبیلګې په توګه دنیپال او هندوستان په پرتله په افغانستان کې دخښتو جوړوونکي نارینه تشکیلوي او یوازې وړې نجونې د خپلو ورونو، او پلرونوتر څنګه په کار بوختي لیدل کیږي او کله چې په عمر لویې شي نو له کلتوري پلوه اړ نه دي چې له کوره بهر کاروکړي؛ دو بیا هم په کورونوکي پر کارمصروفه وي اودکره احصایه یې نه شته ده. ولې په هندوستان او نیپال کې د ښځینه وو کارکوونکو شمیر هم زیات دي اودخښتو په جوړولوصنعت کې نارینه او ښځینه کارکوي.

په افغانستان کې دخښتو ټولې بټې کارګرانو ته تر کار دتره کیدو وړاندې قرضونه ورکوي او کارګران د کورنیو اساسي اړتیاوو دپوره کولو لپاره لکه ناروغي، تداوي، واده کول او دژوندي او مړي د مراسمو لپاره دخښتو له خاوندانو څخه پیسي قرض کوي او بیا مجبوره دي چې هغه پیسي دخښتو په جوړولو سره خلاصې کړي او په دې توګه کورنی د قرضونو دخلاصولو په یوه لیه بدمرغي کی ښکیل کیږي. دا سروې په ډاګه کوي چې کورني د اساسي اړتیاوو دپوره کولو لپاره اړ دي چې په دوامداره توګه پیسي قرض کړي

او اکثره قرضونه د ژمي په موسم کې اخستل کيږي. دنومړې سروې له مخې ۴۶٪ کورني د ۱۱ کالو په موده او يا لدې څخه زيات او ۳۵٪ يې د ۲۰ کلونو څخه زيات د خښتو په بټيو کې کار کوي. او نيږدې ټول (۹۸٪) کورنۍ هغه مهاجرې کورني دي چې دمهاجرت پرمهال يې د ستونزو له امله دی کارته مخه کړې او تر ننه د پوره وړيو په توګه دخښتو دبټيو له خاوندانو سره ګير پاته دي.

د شته قوانينو پرخلاف دواړه ماشومان او لويان کارګران په اونی کې ۷۰ ساعته د ډيرو بدو شرايطو لاندې کارکوي. ورځنی اجوره دلويانو لپاره ۲۹۷ او ۴۰۷(US$6.23-8.54) افغانی او دماشومانو لپاره 170 او ۲۷۸ افغاني ده.

محصور کار په اوسني وخت کې د ورځنی اجورې دکميدلو لامل کيږي. په دې سروې کې په ډاګه شوې چې اوسنيو شرايطو ته په کتو سره د خښتو د توليد په صنعت کې د رقابت د لوړوالي، آزاد بازار، کمه ګټه او داسې نور هغه لاملونه دي چې د بټيو خاوندان نه شي کولی د کارګرانو معاشونه لوړکړي.

"تر هغه وخته پوري چې د ماشومانو تر ټولو ستونزمن کارونو په خاطر اغواکول (لمسول) موجوده وي موږ بايد مخه يې ونيسو ترڅو داسې کارونه چې د ماشومانو په واسطه ترسره کيږي، ژر تر ژره ختمه (ودرول) شي." په افغانستان کې د کار نړيوال سازمان استازې ښاغلي هروي برجر د دغې مطلب په څرګندولو سره زياته کړه: "د داسی کارونو ترسره کول د هغوی د ژوندانه چارې د خرابيدو سبب ګرځي او د غيرقانوني کارونو اوفعاليتونو د خپريدود لامل کيږي. د ترلی يا وابسته کار او دماشومانو کار مسلې په اصل کې يو اقتصادی ستونزه ده چې داقتصادي حل لارو ته اړتيا لري. موږ بايد د افغانستان له دولت سره يوځای کار وکړو ترڅو د دغې پديدې لپاره د حل معقولې لارې چارې ولټول شي."

اوسني حالت ته په کتو سره په کابل کې دکار نړيوال سازمان راپور خبرداری ورکوي چې په ساختماني سکتور کې د نړيوالو مرستو د کموالي په صورت کې به د بټيو خاوندان اړ شي چې خپلې بټې و تړي او يا اجوره کمه کړي او د پوره وړيو کارګرانو حالت به تر بد لا بد تره شي.

دغه راپور په ډاګه جوته کوي چې د خښتو په بټيو کې د پوره وړيو کارګرانو شتون او په ځانګړې توګه د ماشوما نو کارګرانو شتون د انديښني وړ دي چې په دغه راپور کې په بشپړه توګه په ډاګه شوی دی.

نومړې سروې د ۲۰۱۱ کال د اګست او اکتوبر په مياشتو کې ترسره شوې ده او نومړې سروې د ۲۰۰۰ کسانو سره د مرکو، ليدنو او ګروپي بحثونو په شکل د لويانو، ماشومانوکارګرانو او دهغو ی دکورنی دغړو، د بټيو له خاوندانو، سيمه ييزو مشرانو او ښکيلو غاړو سره تر سره شوې ده.

د زياتو معلوماتو لپاره کولای شی له لاندې کسانو سره اړيکه ونيسی:

محترم هروې بغژې په کابل دملګروملتونو دکار دنړوال سازمان استازی، بريښناليک: ilo_kabul@ilo.org ، ټيلوفون: ۰۰۹۳۲۰۲۱۲۴۵۰۰

محترم خير محمد نيرو- سرپرست معينيت امور کار ، بريښناليک: kniru_8@hotmail.com